# علي خان

# شاعري

سپوږی شپول تر ځان چاپیر کړو
چې د حسن له تاراجه دی شرمیږي

چې سرې شونډې سبز خط یه را  په زړه کړم
سر تر پایه سره لمبه شم شنه دوزه

اي د زړه سلطانه ته د زړه سلطان د چا يه
ستا رنځوران ډير دي وايه ته درمان د چا يه

ډير درته خراب زړونه کباب په تمه ناست دي
وايه شراب خوره ته ميلمه په خوان د چا يه

هر څوک دې په جار او په قربان او په ځان بولي
جان خو بیشک جان یه وایه ته قربان د چا یه

زه درپسې درسته ورځ جاړم لکه پرخه
ته صبا خندان لکه ګل واز ګریوان د چا یه

زړه به ستا غلبیل کیده علي احمده
چې مدام و تیرو غشو ته سفر دي

اننګي یه په بوسه سره زخمي شو
د اومو پیو پیروي دې که ندې

د کوځې ګوټ به دې پرې نږدم رقیب ته
افریدي شوم او مغل ته خیبر نیسم

پلار مې د غنم میني راویست له جنته
زه لا تمدار د غنمرنګو د وفا یم

# KHALID KHAN KAKAR